# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@afgazad.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنیر سید عبدالقادر

۱۶ ـ ۱۱ ـ۲۰۰۹

## افغان ګوډاګی دولت
## لږ تر لږه مصنوعی مشروعیت هم تر لاسه نه کړ !

لمړي تر هر څه د مخه بایدپه لنډ ډول سره  ووایو چه  مشروعیت یعني څه ! اوبیا کومو دولتونو ته په نړي کښي  مشروع دولتونه ویل کیدلایسي : باید ووایو هغه هیوادونه چه دخارجی یرغل لاندي راغلی وي ، دنړیوالو حقوقو له پلوه په داسي هیوادونو کښي مشروع دولتونه منځ ته نه سي راتلاي ۰ داځکه چه په دې هیوادونو کښي هر څه دپردو له هیلو سره سم مخ ته ځی ۰ او ولس خپله رینتیني اراده نه سي څرګندولای ۰

ـــ مشروعیت : عبارت دهغه حقوقی صلاحیت څخه دی ، چه داکثریت خلګو درایو او ارادي داخستلو په نتیجه کی یي یو دولت تر لاسه کوي ۰ ولی دا تعریف دنړي داکثریت مروجو دموکراتیکو دولتونومنعکس کونکی دی ۰ او هم دسیاسی او اجتماعي علومو پوهانو مشروع دولتونه پر درو برخو باندي تقسیم کړي دي :

لمړي ـــ هغه خارالعاده شخصیت چه دخلګو ملاتړه بي ساري احساساتو له لاري تر لاسه او ددولت په راس کي قرار ونیسي ۰

دوهم ـــ هغه دولتونه چه په عنعنوي یاسنتي ډول یي دخلګو باور تر لاسه او مشروع بلل سوي دي ۰

دریم ـــ هغه دولتونه چه په ډموکراتیک شکل یي داکثریت خلګو درایو داخستلو په نتیجه کي مشروعیت تر لاسه کړي وي ۰

باید وویل سي چه دادریم ډول دولتونه که په ریښتیني توګه بي له درغلیو څخه داکثریت خلګو رایه تر لاسه کړي ، دخلګو دریښتیني ارادي منعکس کوونکي دی ۰ چه دا دولتونه نظر ونورو دولتونو ته ډیره دموکراتیکه بڼه لري ۰

ولي باید ووایو مشروعیت یو ثابت مفهوم هم نه دی ۰ دا ځکه چه په لمړي قدم کښي ځیني دولتونه کیدلایسي دخلګو درایو ورکولو په نتیجه کي مشروعیت تر لاسه کړي ۰ ولي ورروسته د هغوپلانونو څخه چه د تولټاکنودتبلیغاتي کمپاین پر وخت یي د هغو په نتیجه کښي دخلګو راي تر لاسه کړي انحراف وکړي ، نو دخلګو باور او اعتماد لاسه ورکوي نو په دي صورت کي بیا دا دولت یو غیر مشروع دولت بلل کیدلایسي ۰که په دغو هیوادونو کي ډموکراسي موجوده وي نو خلک کولایسي دبیا ټولټاکنو غوښتنه و کړي ۰ او که یي په هیواد کښي یي ډموکراسي موجوده نه وي، نو بیا دا دولت تر خپل ټاکلي وخت تر ختمیدو پوری دبرچي په زور خپل حاکمیت پر ولس باندي تحمیلوي ۰

اوس به وګورو چه په افغانستان کي دامریکا تر رهبري لاندي دغربی نړي دیرغل په شتون کښي ددوي په اصطلاح داسد ۲۹ می نیتي ټولټاکني په څه ډول مخ ته ولاړي ، او په نتیجه کښي یي څنګه دولت په وجود راغلي دي ، او دولس په وړاندي دمشروعیت قابلیت لر ي او که نه ؟

هغه لویه سیاسي لوبه چه دافغان ټولټاکنوتر نامه لاندي  دامریکا په رهبری غربي نړي دخپلوولسونو او په ځانګړي توګه دافغان ولس دتیر وتلو له پاره داسد پر ۲۹ تمه نیټه شروع کړي وه ، دعقرب پر لسمه  یي په داسي حال کي پای ته ورسول ، چه دافغان دنوي ګوډاګي دولت مشر تابه ته یي دټولټا کنود دوهم پړاو مصنوعي مشروعیت هم ور په برخه نه کړ ۰

ګر چه داسي معلوميدل چه امريکا او غربي نړي غوښتل چه په افغانستان کښي دخپلو پلانونو سره سم داسي ټولټاکني دخپلي برچي او اقتصادی زور باندي تر سره کړي، چه په يوه تک دوه هدفه وولي ۰ هغه داچه لمړي ونړيوالو او په ځانګړي توګه خپلو ولسونو ته ښکاره کړي ، چه موږ پس له اتو کلونو جګړي ښخه په افغانستان کي د داسي يوي نوي غربي ډموکراسي ورقي اړه وو ، چه په منطقه کښی يي بيلګه وجود نه لري ۰ ولي دا مريکا، اروپايي او دمنطقی هيوادونو دګټو پر سر دنه جوړ جاړي په نتيجه کښی ، دي مصنوعي ټولټاکنوداسي يوه لويه نړيواله رسوايي او بي اعتباري دامريکا او نوری غربي نړي په برخه کړل ، چه تلافي به يي ددوي وخارجي سياست ته دامکانه ښخه ليري خبره وي ۰ دوهم هدف يي ديوه داسي دولت رامنځ ته کول وه چه د ولس په منځ کي د هيڅ نوع اتوريطي او حيسيت لرونکي نه وي ،چه داهدف يي په پوره شکل سره تر لاسه کړ ۰

بايد ووايو چه دټولټاکنو دوهم پړاوته پيړ ندل سوي دواړه کانديدان دپردو تر مستقيمي لاربښووني او حمايه لاندي مخ ته تلل ، ولي دپردو دجوړ جاړي په نتيجه کي يوه کانديد دخپلو اعترا ضونوپه کولو او مخ ته دنور تګ سره سره دعقرب پر ۹مه دټولټاکنو په دوهم پړاوکښي دګډون ښخه صرف نظر وکړ ۰ او افغانانو ته په ناڅاپي ډول دجمعي رسنيو له لاري دانتخاباتو دکميسون دريس له خواه ښخه دعقرب پر لسمه ښاغلي کرزي داساسي قانون د۱۵۶ مادی او دټاکنو دقانون د ۴۹ مادی پراساس دانتخاباتو ګټونکي اعلان سو، او زياته يي کړله چه دټاکنو په دوهم پړاو کي ددير لګښت او ددې پروسي داوږد والي دمخنيوي په موخه يي حامد کرزي ددوهم پړاوله پاره دافغانستان ولس مشر وټاکي ۰ اوس به وګورو چه په ۱۵۶ ماده کی په دې هکله ښه راغلی دی ۰

د اساسي قانون ۱٥٦ ماده وايي :((د هر ډول انتخاباتو د څارنې او اداري او په هېواد کې د خلکو عمومي رايو ته د مراجعې لپاره د انتخاباتو مستقل کمېسيون د قانون له حکمونو سره سم جوړېږي .))

په داسي حال کي چه دانتخاباتو دکميسون دريس ځرګندوني داساسي قانون او دټاکنو دقانون ښخه په ښکاره ډول سر لغړ ونه ده ۰ دا ځکه چه په اساسي قانون او دټاکنو په قانون کښي هيڅ داسي ښه نه په سترګو کيږي چه هغه دی دلالت پر دې وکړي چه په نتيجه کي دي ښاغلي حامد کرزي دانتخاباتو ګټونکي اعلان کړي ۰ ولي په اساسي قانون او دټولټاکنو په قانون کي داسي هم ښه نه دي ذکر سوي ، چه دوهم پړاو ته درسيدو پر لاره که يو کانديد دخپلي کانديد توري ښخه صر ف نظر او يا ټولټاکني تحريم کړي ، نو دابل کانديد دټولټاکنو ګټونکي بلل کيدلايسي ۰چه دا خپله ددوي دجوړ کړي اساسي قانون او دټولټاکنو دقانون لويه خلا ده ، چه ددې خلا ډکه ول نه يوازي دانتخاباتو دکميسون بلکه دستري محکمی دصلاحيت ښخه هم لوړه خبره ده ۰ چه صرف لويه جرګه کولايسي داسي ستونځي په اساسي قانون کښي هواری او لاره خلاصه کړی ۰ ځکه نو دانتخاباتو دکميسون دياند دعقرب دلسمي نيټي دآريانا دټلويزيون ګردي ميز ته هم حاظر نه سوو، چه په دې هکله توضيحات ورکړي ۰ اوس به په دې مصنوعي ټولټاکنو کښي دخلګو دګډون په هکله دانتخاباتو دکميسون کړونواو ځرګندونو ته نظر واچوو،او بايد ووايو: چه دانتخاباتو دکميسون دځرګندونو په حواله ۱۵ ميليونو خلګو ته دټولټاکنوکارتونه ويشل شوي وه ، ولي وروسته بياد دوي دځرګندونو پر اساس دشپږو ميليونو په حدودو کښي خلګو اشتراک وکړ ۰ چه وروسته دشکاياتو دکميسون تر ښيړني او کنترول وروسته نيژ دې يو ميليون او ۳۰۰ زره درايو تقلبي کارتونه دمحترم کرزي اوډاکټر عبدالله عبدالله دصندقونو ښخه بيرته ليري شول ، ځکه چه درغلي پکښی سوي وه ۰ نو پر دې اساس تقريبآ ۳۴ فيصده خلګوپه دې ټولټاکنو کښي اشتراک کړي وو ۰ نو په دی صورت کښي هيڅ داسي يو ملي او بين المللی نورم وجود نه لري ، چه د خلګو دلوي اکثريت په نه ګډون کښي دي دا ټولټاکني مشروع وبلل سي ۰ ځکه نو دا ټولټاکني په هيڅ صورت سره دمصنوعي مشروعيت لرونکی هم نه سي بلل کيدلای ۰ بايدلمړي هغه تقلبکاره انسانان چه ددواړو کانديدانو ـــــ محترم کرزي ، ډاکټر عبدالله عبدالله له پاره يی په بي ساري ډول درغلي کړي وه ، ښارنوالی او محکمی ته معرفی سوی او ټولو هغو کسانو ته چه په دې ټولټاکنو کښي يي ورو کومامورينو ته ددرغليو دکولو دپاره يي لاربښوونه کړي وه ،ملت ته معرفي سوي او دجرم سره سمي جزاوي ورکول سوي واي ۰ ځکه ځيني کسان يي دولس په مقابل کي په واقعيت سره دملي خيانت مرتکبين وه ۰ولي متاسفانه چارواکو دافغان ولس دتير وتلو له پاره يواځي يو ښو وړوکو مامورينوته هغه هم بيله کوم تحقيقه دوظيفي ښخه يي دليري کولود جزااعلان وکړ ۰ داځکه که يي په قانوني ډول تحقيقات ځني کړي واي ،نو د ډيرو لوړ پوړو چارواکولاسونه او پښي به پکښي بند ي سوي واي ۰ ولي دبرچی په زور هغوي نجات پيداکړ ۰ اومحترم کرزی هم په يوه خبري ناسته کي دلمړي پړاو ټولټاکني ددرغليو له کبله يي مشرو عيت تر پوښتني لاندي وبلی ۰ نوټولټاکنوکميسون بايدد ټولټاکنو دقانون د۵۸ مادی سره سم دټولټاکنودغه ښکاره او بي ساري درغلي تر عدلي تحقيق لاندي نيولي واي ۰ « دټولټاکنو دقانون ۵۸ ماده دليکني په آخره کښي مطالعه کړي » اوبيايي داساسي قانون او ټولټاکنو دقانون سره سمي ټولټاکني تر سره کړي واي ۰ ولي متاسفانه دټولټاکنو کميسون

بیا هم ددي ټولو ناخوالو سره سره  لمړي دوه نفره دټولټاکنو دوهم پړاو ته معرفي کړل ۰ چه داخپله دټولټاکنو دکمیسون لویه جفا او تیر وتنه  ده چه دولس په مقابل کښي یي تر سره کړل ۰ چه ددوي دا غیر قانوني عمل هم تر عدلي پوښتني لاندي راتلایسي ۰  اوس نو داسي سوال رامنځ ته کیږي ، چه ولی دا دغرب تر مستقیمی نظامی او اقتصادی حمایي لاندی ټولټاکنی په داسي یوه لویه ددرغلیو څخه ډکه رسوایي باندی واوښتلي ؟داسي معلومیږي  چه  پایلي به یي هم ډیر ي بدي ناخوالي  دځانه سره ولري ۰

باید ووایو چه دامریکا تر رهبري لاندي دغربی ټولني دې سیاسی لوبي مختلیفی پوښتني دافغان سیاسي کارپوهانو او په مجموع کښي دټولو افغانانو په منځ کښي راپیداکړي دي ۰ هغه داچه :
ـــ ولی د امریکا تر رهبري لاندي غربي ټولني کرزي دټولټاکنو دوهم پړاو ته ور پوري وا هه ،هدف یي په دې کي څه وو ؟
که یي  مقصد په دې ټولټاکنو کښي دډموکراسي تمثیل او مشروعیت  و و ، نو دالوبه یي باید تر آخره رسولي واي ۰ او بیا به یي کرزي ګټونکي اعلان کړي واي ۰ دا ځکه چه تقریبآ  ټول صندوقان ددوي داستازو تر مستقیمي  څارني لاندي ډکیدل او هم بیا وروسته شمیرل کیدل ۰

بله  اساسي پوښتنه داده ، ولی دامریکا تر رهبري لاندي غربي نړي  خپل داتو کالو وفاداره  ملګري محترم کرزي یي، په غیر مستقیم ډول دخپل ولس په منځ کي د سیاسي پلوه  دونه وتکاوه چه لړ تر لړه یي حتی دمصنوعي مشر وعیت  ارزش  هم ور پري نه ښودي ؟
ځیني افغاني روشنفکران داسي فکر کوي چه دغربي نړیٔ دا ګذار  شاید دمحترم کرزي دځینو هغو  حرکاتو نتیجه هم وي ، کوم وخت چه په امریکا کي ددموکراټانو په راتګ سره ددوي  مناسباتو کړکیچنه بڼه ونیول ،اوبیا  ده  خپله راتلونکي  په خطر کي ولیدله ۰ نوپه ناڅاپه  ډول یي وروسیي ته لاس ور اوږد کړ ۰او غوښتل یي چه یو چال مخ ته ولاړ سي  ۰ چه په نتیجه کي یي  نن  دي دداسي یو دولت په راس کي ودراوه چه  دهیڅ نوع حتی مصنوعی مشرو عیت لرونکي هم  نه دي ۰  اودمحترم کرزي  لاسونه اوپښي یي ددې ټولټاکنو په زریعه  داسي ور وتړل ،  چه په راتلونکي وختونو کي بیا دي ونه کړایسي چه یو او بل طرف ته لاسونه اوږده اویا ددوي دارادې  څخه لیري څرګندوني و  کړي ۰ او محترم کرزي دا لوي بار  دخپلي چوکي سره دمیني او دخپلي ډلي دنورو مادي ګټو دلاس ته راوړلو او ساتلو له پاره بیا هم په ډیره خوشحالي ولي  دنه مشروعیت سره سره   قبول کړ ي ۰
او هم باید ووایو چه په هیواد کښي د۸ کالویرغلي بهیر یعني  ( بشري او اقتصادي جنایات )  او دپورتنیوواقعیتونو سره سره  بیا هم متاسفانه  ځیني افغاني روشنفکران دسالم سیاسي تعقل څخه لیري دغربی نړۍ دا ښکاره  یرغل یو نړیوال دوستانه کومک بولي ، چه دداسي یوه نظر درلودل  خپله دافغان ولس دملي ګټو پرضد ښکاره سیاسي دریځ دي ، چه داسي کسان به  په راتلونکي وختونو کي  دافغان ولس او تاریخ له محکومیت څخه   لیري پاته   نه سي ۰
او هم په دې لویه سیاسي لوبه کي   افغاني  سیاسي  ګوندونو، ددې مصنوعي  ټولټاکنو سره دپلوي ، یاچپتیا اومحافظه کاري لاره  ځانته غوره کړي  وه ۰ چه دا خپله دافغانستان په اوسنیو  سیاسي شرایطو کښي یوه لویه سیاسي تیروتنه او جفا بلل کیدلایسي ۰ځکه نو سوال دادي چه :  ایا ستاسو په نظرد دغي  لوي سیاسي لوبي په نتیجه کي چه دا دولت په وجودراغلي ، دافغان ولس دملي ګټو په نظر کي نیولو سره دکوم مشروعیت خاوند بلل کیدلایسي ؟
ولی ښه به دا واي چه ټولو افغان ملی ګټو ته وفاداره ګوندونو ،  اجتماعي  ټولونو او مستقلو افغاني کار پوهانو  ددې لوي غربي لوبي په مقابل کي دامکان په صورت کي تر یوه بیرغ لاندي  یا جلاجلا  داسي یو ملي دریځ نیولي واي ، چه دهغه په  نتیجه کښي په  مملکت کښي ددې مصنوعي ټولټاکنو پر ځاي دافغانستان ددې لوي لانجي  دسیاسي حل دپاره په ګډتفاهم سره داسي یو میکانیزم  جوړ کړي،او نړیوالوته یي  وړاندي کړي واي ۰ چه په دې عمل سره به دوي دخپل ولس په سنګر کي دریدلي واي ۰ اودنړي او منطقي دسیاسي او اقتصادي شرایطو څخه هم   داسي معلو میږي چه که اوس هم په یوه ګډ تفاهم سره دسیاسي حل تر شعار لاندي خپله مبارزه پیل کړي ،   ډیر ژربه دولس په ګټه   دخپلي دغي پاکي مبارزي  نتیجه ترلاسه کړي ۰  او ددوي ددغه  میکانیزم  دتطبیق  په نتیجه کي به  نه یواځي   په مملکت کښي دآرامي او ثبات سیوري راسي ۰بلکه دمنطقي  په هیوادونو کښي به هم دصلح بیرغونه و  رپیږ ي  ،او نړیوال یرغلي ځواکونه  به هم وخپلو اصلي ځایونو ته  تللي  ولاړسي ۰

تمت باالخیر

ماده پنجاه و هشتم: ( قانون انتخابات )

(1) شخصی که درجریان مبارزات انتخاباتی ویا در انتخابات مرتکب یکی از اعمال زیر شود ، طبق احکام قانون مورد تعقیب عدلی قرار می گیرد:

1 - تهدید یا تخویف رای دهنده و نامزد یا اخلال در امر انتخابات.

2 - ممانعت از حضور رای دهندگان ، نامزدان و یا نمایندگان نامزدان در مراکز رای دهی بدون دلیل موجه.

3 - تقلب یا فریب کاری د ر رای دهی یا شمارش آراء.

4 - رای دهی یا کارت تقلبی یا کارت شخص دیگر.

5 - تغیر ، تبدیل ، سرقت ویا محو اسناد انتخاباتی.

6 - جعل کارت های رای دهی.

7 - فریب کاری در کارت رای دهی.

8 - استعمال کارت رای دهی جعلی.

9 - مبادرت به رای دهی بیش از یکبار.

10 - باز کردن ویا شکستن قفل محل نگهداری لوازم واسباب، وهمچنان لاک ومهر صندوق های رای دهی ، بدون صلاحیت.

11 - جلو گیری از اشتراک رای دهندگان یا نامزدان در پروسه انتخابات.

12 - استفاده از پولی که ازراه های غیر قانونی ویا منابع خارجی بدست آمده باشد.

13 - استعمال کلمات یا سخنرانی توهین آمیز.

14 - تشویق و تحریک سایری اشخاص به ارتکاب یکی از اعمال فوق.

(2) هرگاه کمیسیون مستقل انتخابات تشخیص دهد که حزب ویا نامزد مستقل ، مرتکب تخطی های انتخاباتی را رهنمایی یا پشتیبانی نموده ، در آنصورت می تواند تحریمی را برآن حزب یا نامزد وضع کند.

(3) درصورتی که کمیسیون مستقل انتخابات تشخیص دهد که تخطی از احکام این قانون صورت گرفته ، صورت تخطی را با دلایل موجه به مراجع ذیربط قانونی و یا دادستانی راجع میسازد.